
## د افغانستان د اقليمي ګواښونو وړاندوینه- د اقليمي وړاندوینو د مرکز له خوا
## د امریکا متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) د قحطۍ د واردمخه خبرداري سیستمونو د شبکې (FEWS NET) لپاره
## د ۲۰۱۹ کال د نوامبر میاشتې له اته ویشتمې څخه د دسامبر میاشتې تر څلورمې نېټې پورې




**د تودوخې درجه:**


د نوامبر میاشتې له اوولسمې څخه تر درویشتمې نېټې پورې د تودوخې درجه په منځنۍ توګه د افغانستان په شمالي ولایتونو کې له نورمالې کچې څخه ټیټه وه او همدارنګه د تودوخې د درجې منفي انحرافونه د سانتي ګراد د ۳ او ۷ درجو په منځ کې ول. خو له بله پلوه د هېواد په ختیځو او شمالي برخو کې د تودوخې درجه له نورمالې کچې څخه یوڅه لوړه وه. د وړاندوینې د دورې په اوږدو کې د افغانستان د ګڼ شمېر سیمو لپاره نورمالې کچې ته د نږدې او یا هم ورڅخه د یوڅه لوړې تودوخې اټکل شوی دی. په ورته وخت کې، د اټکلونو له مخې، د تودوخې تر ټولو ټیټه درجه بنایي د هېواد په شمال ختیځو غرنیو سیمو کې د سانتي ګراد ۲۵- درجو ته راولوېږي.

**وربښت:**

د څارنې د تېرې دورې په اوږدو کې د افغانستان په دوه پر دریيمې ختیځه برخه کې پراخ سپک او د منځنۍ کچې (له ۵۰ ملي مترو څخه لږ) وربښتونه وشول. د تېرو دېرش ورځو په اوږدو کې د هېواد په مرکزي لوړو پرتو سیمو او سویلي برخو کې له منځنۍ کچې څخه ډېر وربښتونه ثبت شول. په  اټکل شوې موده کې د افغانستان د ګڼ شمېر سیمو لپاره د وچې هوا او نه وربښت وړاندوینه شوې ده. خو له دې سره سره، د هېواد په شمال ختیځو غرنیو سیمو کې د درنو واورو (څه دپاسه ۲۰ سانتي مترو) د ورېدو شونتیا لیدل کېږي.

# د منځنۍ آسیا د اقلیمي ګواښونو وړاندوینه- د اقلیمي وړاندوینو د مرکز له خوا

## د ۲۰۱۹ کال د نوامبر میاشتې له اته ویشتمې څخه د دسامبر میاشتې تر څلورمې نېټې پورې




**<u>د تودوخې درجه:</u>**

د تېرې اونۍ په لړ کې د تودوخې درجه په ډېری مواردو کې په مرکزي آسیا کې د افغانستان، د قزاقستان د لویدیځ، تاجکستان او قرغیزستان په استثنا له منځنۍ کچې څخه ټیټه وه.

په راتلونکې اونۍ کې به د تودوخې درجه په قزاقستان، قرغیزستان، تاجکستان او ازبکستان کې منفي ته نږدې وي. په ترکمنستان کې به د تودوخې مثبته درجه له صفر څخه تر ۲۰ درجو پورې وي. د پاکستان له شمال لویدیځ څخه د سویل ختیځ په لور په ترتیب سره د سانتي ګراد له صفر څخه تر ۲۵ درجو اټکل شوی دی. د افغانستان په مرکزي او شمالي برخو کې د تودوخې درجه به د منفي کمزورو او مثبتو کمزورو درجو ترمنځ وي.  چې البته دغه تودوخه به له شاوخوا څخه د سانتي ګراد د ۱۵ تر ۲۰ درجو په واسطه راچاپېره شوې وي.

**<u>ورښت:</u>**

د تېرې اونۍ په ترڅ کې د پاکستان په لویدیځ، تاجکستان، قرغیزستان، د ازبکستان ختیځ، د ترکمنستان ختیځ او ایران کې له سپکو څخه تر متوسط بارانونو پورې ثبت شول. په قزاقستان کې هم ځای ځای یوڅه بارانونه وشول.

د GEFS د هواپېژندنې موډل د راتلونکې اونۍ لپاره د پاکستان په شمالي برخو، د افغانستان شمال او د تاجکستان د مرکزي سیمو لپاره له ۲۵ ملي مترو څخه لږ د ۹۰ سلنې ورښت او همدارنګه د قزاقستان د شمال ختیځو او لویدیځو سیمو لپاره د ځای ځای ورښت اټکل کړی دی. همدارنګه د اټکلونو له مخې د تاجکستان له مرکزي برخو څخه نیولې بیا د پاکستان تر شماله پورې به درنه واوره وشي.

**یادونه: د خطرونو د وړاندوینې دغه نقشه د موجودو جوي/ اقلیمي معلوماتو او د هوا د حالاتو د لنډ مهالي تر منځ مهالي (تر یوې اونۍ) وړاندوینې پر بنسټ ولاړه ده او د کرنیزو حاصلاتو پر وضعیت او څرخایونو باندې د هغو بالقوه اغېزې څېړي. هغه سیمې چې پکښې غیر نورمال شرایط لیدل شوي دي شاوخوا یې کرښې چاپېره شوې ده. د لویې وچې په کچه دغه مقیاس کې د دغو کرښو پولې یواځې په تقریبي ډول وړاندې شوې دي. دغه محصول موسمي اوږدمهالي اقلیمي وړاندوینې نه کوي او دم ګړۍ یا راتلونکې کې د خواړو خوندیتوب ته هم کومه اشاره نه کوي.**

د قحطۍ د وارډمخه خبرداري سیستمونو شبکه (FEWS NET) د امریکا د متحدو ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداري (USAID) له خوا تمویل شوې یوه پروژه ده چې د خواړو د خوندیتوب د وضعیت په اړه د عیني معلوماتو د برابرولو په ډګر کې فعالیت کوي. د دغې شبکې لیدلوري لزوماً د USAID اویا هم د امریکا متحدو ایالتونو د حکومت د لیدلورو منعکسوونکي ندي. د هوا د حالاتو وړاندوینې چې د دغې شبکې له خوا وړاندې کېږي د FEWS NETG د سیمه ییزو دفترونو او مرکزي دفتر، ، NOAA-CPC، USGS، USDA، NASA او د اړوندو هېوادونو د یو شمېر نورو ملي او سیمه ییزو ارګانونو د ګډ کار محصول دی.  مهرباني وکړئ د دغه محصول په اړه خپلې پوښتنې او نظرونه دغې برېښنا پتې Wassila.Thiaw@noaa.gov ته واستوئ او یا هم له 3424- 683- 301- 1 شمېره ټیلیفون سره په اړیکه شئ. همدارنګه کولای شئ د USAID FEWSNET د کړنو په تړاو خپلې پوښتنې د USAID د پروګرامونو د مدیر ښاغلي ګیري ایلیرټز د ټیلیفون شمېرې 0204-254-202-1 یا د نوموړي برېښنا پتې geilerts@usaid.gov باندې راواستوئ.